
بسم الله الرحمن الرحيم

# اسلام د ټېکنالوژۍ پرمختګ ته معنی ورکوي



هند د اګېسټ په 23مه سپوږمۍ ته ورسېد؛ له دې سره د ټېکنالوژۍ په برخه کې هغو لاسته راوړنو لېست نور هم اوږد شو چې د تېرې یوې پېړۍ په اوږدو کې ترلاسه شوې. نړۍ هر شېبه د ټېکنالوژۍ په ډګر کې د دغو لاسته راوړنو شاهده ده؛ خو بیا هم د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د خلکو حالت مخ پر خرابېدو دی. د نړۍ خلک لا هم د ژوند لومړنیو اړتیاو ته لاسرسی نه لري او د خوړو له کمښت، سیاسي بې ثباتیو، بې ثباته نړیوال امنیت، اقتصادي ستونزو، بې عدالتۍ، فساد، د کورني ژوند انحطاط، استعماري استثمار، بې ځایه کېدو، د کډوالۍ فشارونو، نژادپالنې، رواني ناروغیو او دې ته ورته پراخو ستونزو سره لاس او ګرېوان دي.

د هند راتلونګی ګام ښایي د مریخ پر لور وي؛ خو بیا به هم خپل خلک د ډیلي او ممبی له سړکونو او کنډوالو ونه شي ژغورلی او نه به د جنسي تېري وبا ختمه کړی شي. امریکا ښایي د څو ټریلیوني ډالري تصدیو له لارې نورې پرمختللې ټېکنالوژۍ رامنځته کړي؛ خو د زیاتېدونکي انفلاسیون او هغه دوره‌اي اقتصادي ناورین مخه به ونه شي نیولی چې امریکایان له سترې اقتصادي بدبختۍ سره مخ کوي او د غلامۍ ژورې کندې ته یې غورځوي. چین ښایي د خپلو پرمختللو ټېکنالوژیکي تولیداتو له لارې خپل کورنی ناخالص تولید (GDP) لوړ کړي؛ خو خلک به یې د درېیمې نړۍ د کاري ځواک په توګه کړاو کې وي. روسیه ښایي د هایپرسونیک توغندیو جوړولو ته دوام

ورکړي؛ خو د نړۍ امنيت نه شي تضمينولی. لنډه دا چې يوازې ټېکنالوژيکي پرمختګونه د انسانانو ستونزې نه شي حلولی.

له يوې سالمې ايډيالوژۍ او د ژوند نظام پرته د ټېکنالوژۍ هر ډول پرمختګ بې معنی دی. ايډيالوژي د انسان د ژوند اصلي موخه تعريف او اداره کوي چې دا بيا په ژوند کې د انساني هيلو مسير ټاکي. دا چاره د دې لامل کيږي چې د ټېکنالوژۍ پرمختګ په دې موخه وهڅول شي، چې د ژوند د هغې موخې په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي چې ايډيالوژۍ تعريف کړې ده. له همدې امله د ټېکنالوژۍ پرمختګ له ايډيالوژۍ سره ټينګه اړيکه لري او تابع يې دی.

د غرب د پانګوال نظام معيوبه ايډيالوژي د هغه ټيکنالوژيکي پرمختګ لامل شوې چې د ژوند له ناسمې موخې او هيلې سره تړاو لري. په دې ډول د انسان د ژوند له اصلي مسلو څخه د ټېکنالوژۍ اړيکه پرې کيږي. په حقيقت کې د ټېکنالوژۍ اوسنی پرمختګ د ګوتو په شمېر پانګوالو د ګټو خدمت کوي او د نورو ټولو خلکو ګټې تر پښو لاندې کوي. خلکو ته يوازې د وچې ډوډۍ هغه ټوټې رسېږي چې د پانګوال نظام له دسترخوانه لوېږي.

له بل لوري اسلامي ايډيالوژي د انسانانو پر ژوند سم او دقيق تمرکز کوي. اسلامي ايډيالوژي د ژوند موخه د الله سبحانه وتعالی اطاعت او د هغه د رضا ترلاسه کول تعريفوي چې دا په دنيا او اخرت کې د بريا سبب کېږي. د ژوند هغه نظام چې له اسلامي ايډيالوژۍ څخه راوتلی دی هم د ژوند د همدغې موخې پر ترلاسه کولو تمرکز کوي.

له همدې امله انسانانو ته د نړۍ د ټولو سرچينو د اختيار حکمت هم دا دی، چې د ژوند د هغې موخې ترلاسه کولو لپاره وکارول شي چې اسلام تعريف کړې. نو د ټېکنالوژۍ پرمختګ د دې لپاره کېږي چې له خلکو سره اصلي موخې ته په رسېدو کې مرسته وکړي. د اسلام تاريخ ښيي چې تخنيکي پرمختګونه ټل خلکو ته هوساينې راوړلو لپاره شوي دي. مسلمانو ساينسپوهانو، انجينرانو او ډيزاينرانو د ساينس په ډګر کې داسې نوې زمينه مساعده کړه چې نن ورځ د معاصرو ټېکنالوژيکي لاسته راوړنو د بنسټ په توګه کار کوي.

نن بايد بيا ټيکنالوژۍ ته د سالمو موخو لپاره پرمختګ ورکړو چې له انسانانو سره د انساني ژوند د اساسي ستونزو په حلولو او د اسلامي ايډيالوژۍ له مخې د ژوند موخې په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي. دا چاره يوازې د نبوت پر منهج اسلامي خلافت د تاسيس له لارې شونې ده. خلافت د مهمو ټېکنالوژيکي پرمختګونو له لارې يوازې د اسلامي ايډيالوژۍ پر پلي کولو تمرکز کوي او يوازې دا چاره انسانيت د اوسنۍ نافرمانۍ او بدبختۍ له کندې ژغورلی شي.

الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

**[إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ]**

***ژباړه:*** *«حقيقت دا دی چې الله سبحانه وتعالی د هېڅ قوم حالت تر هغه نه بدلوي چې دوی په خپلو نفسونو (حالتونو) کې بدلون نه وي راوستی.» [الرعد:١١]*

## د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

## علي طارق- ولايه پاکستان